مصطفی پسرلی
۲۰۱۹/۰۹/۰۵

# له شړيدلي ځانه څه غواړې نور

# غزل

له شړيدلي ځانه څه غواړې نور    تنی تنی ګریوانه څه غواړې نور

پــه تـوده څمکـه پښتانه سوځيږي

راشه د خپر بارانه څه غواړې نور

اوس د زقومو په خوند شکر باسم    له ترخو ډک اسمانه څه غواړې نور

بــې داره زانګمه د مــړي په شان

د پاتې ژوند ارمانه څه غواړې نور

پرهر ژورشو ترې ناسور جوړ شوی    د بې وسی درمانه څه غواړې نور

نور د افغان د وينو ښناک ودروه

بس که خونخور انسانه څه غواړې نور

د "پسرلي" ورځې تیارو وخوړې

د وحشت تور زندانه څه غواړې نور

**** **** ****